PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۰۰۳

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یولسم کال – دویمه دوره، ۱۰۰۳ مه گڼه، پر له پسې ۲۰۷۸ گڼه د ۱۳۸۹ ل.د کب ۲۸ مه – د شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق ربیع الثاني ۱۳ مه د ۲۰۱۱ د مارچ ۱۹ مه

حریق ۱۶ تانکر تیل در ارزگان، ۸کشته و مجروح برجا گذاشت

مسوولان محلی در ولایت ارزگان می گویند که در اثر حریق تانکرهای نیروهای خارجی، دو راننده کشته شده، شش تن مجروح گردیده و چهار تن دیگر آنها لادرک می باشند.

این رویداد، دیروز در مقابل مرکز تیم بازسازی ولایتی (پی. آر. تی) در شهر ترینکوت، به وقوع پیوست.

مسوولان محلی می گویند که این تانکرها، حامل تیل "تی ۱" طیاره، برای نیروهای خارجی بود. ص۳

د ټاکنیزو شکایتونو په اړه ځانګړې محکمه لغوه کیږي؟!



افغان ولسمشر حامد کرزي ته نژدې سرچینې وایي ارګ د انتخاباتي شکایتونو د ارزونې لپاره د جوړې شوې اختصاصي محکمې د بهر ته تړلو پر خبره غور پیل کړی دی. دغې سرچینې چې نه یې غوښتل نوم یې واخیستل شي بي بي سي ویلي هڅه دا ده چې د انتخاباتي درغلیو په لانجه کې ښکېلو غاړو یانې ګټونکو او بایلونکو کاندیدانو دواړو ته د محکمې د تړل کېدو په تړاو د منلو وړ حل لاره وموندل شي. د دغې محکمې د برخلیک په اړه چې ولسي جرګې یې وار له مخه د تړلو پریکړه کړې په رسنیو کې له تېرو دوو ورځو راهیسې ضد اونقیض رپوټونه ورکړل شوي. خو اوس داسې ښکاري چې ولسمشر کرزی ګواکې د ځینو فشارونو له کبله په خپل امر د پرانیستل شوې دغې محکمې د بهر ته تړل کېدو هوډ لري. د افغانستان د وروستیو پارلماني انتخاباتو په تړاو د نورو کنړو لانجو په لړ کې د درغلیو دارزولو لپاره د ولسمشر کرزي په حکم جوړه شوې دغه اختصاصي محکمه هم له هماغه لومړي سره یو داسې جنجال پاتې شوی چې له کبله یې ولسمشر کرزی د کور دننه او بهر له ګڼو فشارونو سره مخامخ دی. په دې اړه تر ټولو تازه فشار د ملګرو ملتونو د سرمنشي بانکي مون له لوري و. بناغلي بان کي مون ویلي چې که د افغانستان د انتخاباتو له ۳مخ

په کراچۍ بندر کې د افغان سوداګرو شاوخوا ۹۰۰۰ کانټینرونه د له منځه تلو په حال کې دي

د پاکستان په کراچۍ بندر کې د افغان سوداګرو د ۳۰۰ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت توکي د له منځه تلو په حال کې دي.

دغه څرګندوني د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونې د مدیره پلاوي تجارتي مرستیال خان جان الکوزي د کب پر ۲۶ مه وکړې.

هغه وویل، چې پاکستانیو چارواکو له تېرو شاوخوا ۷ میاشتو راهیسې د کراچۍ په بندر کې د افغان سوداګرو سوداګریز توکي درول کېږي، چې دا مهال یې شمېر شاوخوا ۹۰۰۰ کانټینرو ته رسېدلی دی.

د نومورې په وینا، په دې توکو کې د ۳۰۰ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت، غوښې، هګۍ، شیدې، درمل او داسې نور خوراکي توکي شته، چې که د مارچ د میاشتې تر پایه ونه لېږدول شي، نو له منځه به لاړ شي. هغه زیاته کړه: ((همدارنګه د تېرو ۳ ورځو په اوږدو کې مو ۳۰ کانټینره غوښې او هګۍ، چې له منځه تللې په اوبو لاهو کړي دي.))

دغه راز الکوزی وایي، چې د یادو شاوخوا ۹۰۰۰ کانټینرونو توکو ۸۰ سلنه یې ژمني توکي دي، چې هغو هم د ژمي د موسم په ختمېدو سره بازار له لاسه ورکړی دی. نومورې زیاته کړه: ((دا یو لوی زیان دی، چې افغان سوداګرو ته اوړي، خو مور له افغان حکومت نه غواړو، چې دې ستونزوته ژر تر ژره د حل لار وموميي.))

دده په وینا، په کراچۍ کې د یادو شاوخوا ۹۰۰۰ کانټینرونو په هر یوه کې له ۸۰ زره تر ۲۰۰ زره ډالرو په ارزښت توکي شتون لري.

دی وایي، چې ورځمه ورځ افغان سوداګرو له ولسمشر حامد کرزي سره وکتل او خپلې کورنۍ او بهرنۍ ستونزې یې ورسره شریکې کړې. ۳مخ



هرورۍ بر مهم ترین رویدادهای افغانستان در سال ۸۹ ۲

پر ۲۰۱۱ کال له افغانستانه د امریکایي پوځیانو د وتلو پرېکړه لیک رد شو

د امریکا د متحدو ایالتونو د استازو جرګې د رایو په بشپړ اکثریت د پرېکړه لیک هغه مسوده رد کړه چې په کې غوښتل شوي وو امریکایي پوځیان دې د روان ۲۰۱۱ کال د دسمبر تر ۳۱ پورې له افغانستانه ووځي.

پرېکړه لیک د امریکا له ولسمشر بارک اوباما څخه غوښتي وو چې باید د ۲۰۱۱ کال د دسمبر تر یوولسمې مخکې امریکایي پوځیان له افغانستانه وباسي. په کانګریس کې دې ته ورته هڅه پخوا ناکامه شوې وه او داخل هم مخکې تر مخکې باور کېده چې دا پرېکړه لیک به تصویب نه شي.

د دیموکرات ګوند غړې ډینیس کوسنیچ، د جمهوري غوښتونکي ګوند غړي والټر جونز او د ۲۰۰۸ ع کال د جمهوري ریاست کاندید ران پال له افغانستان څخه د روان کال تر پایه د امریکایي ځواکونو د ایستلو په باب د پرېکړه لیک ترتیبوونکي او ملاتړ کوونکي وو.

د استازو جرګې ته د دې پرېکړه لیک تر وړاندې کېدو مخکې په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو عمومي قومندان ډیویډ پیټرایوس کانګریس ته ویلي وو چې په جګړه کې پرمختګ شوی، تولې دوی په ګټه د بدلېدو په حال کې ده او امریکا ته شرایط بر بري چې د جولای له میاشتې د ځواکونو پر ایستلو پیل وکړي.

د جنرال پیټرایوس له پلان سره سم امریکایي پوځیان به د ۲۰۱۴ کال تر پایې پورې په افغانستان کې پوځي عملیات پای ته ورسوي او د افغانستان د امنیتي چارو ټول مسوولیتونه به افغان ځواکونو ته وسپاري. پیټرایوس د چهارشنبې پر ورځ د امریکا د مشرانو جرګې د وسلوالو خدماتو د کمیټې په استماعیه غونډه کې ۳مخ

د افغانستان په اړه د هسپانیا د استخباراتو د رییس بدبینانه انځور

د هسپانیا د ملي استخباراتو د مرکز (سي این آی) رییس فلیکس سانز رولدان د چهارشنبې په ورځ د پارلمان غړیو ته د ځرګندونو په مهال د افغانستان د حالاتو په باب ډېر منفي او بدبینانه تصویر وړاندې کړ. په مادرید کې یوې باوري هسپانوي سرچینې، چې د پارلمان په غونډه کې یې ګډون کړی و، تاند ته ویلي، د پارلمان په غیرعلني (د بندو دروازو شاته) غونډه کې د هسپانیا د ملي استخباراتو د مرکز رییس د جرګې د پټو لګښتونو د کمېسیون غونډې ته حاضر شو ځو د کینې ارخي یووالي (Felix Sanz Roldan) ګوند د غړیو په غوښتنه په افغانستان کې د هسپانیا د اجراتو په باب راپور وړاندې کړي. سانز رولدان د پارلمان غړیو ته تېره میاشت ویلي وو چې په افغانستان کې پر لوبدیځو پوځیانو حملې زیاتې شوي دي. ده دا اندېښنه هم ځرګنده کړې وه چې په ۲۰۱۱ کال کې به د طالبانو حملې دوه برابره شي. د هسپانیا د استخباراتو رییس د پارلمان دې پټې غونډې ته وویل، یوه ۳مخ

مروری بر مهم ترین رویدادهای افغانستان در سال ۸۹

قسمت دوم

کنفرانس کابل: کنفرانس بین المللی کابل از دیگر رویدادهای مهم سال ۸۹ در افغانستان بود.

این کنفرانس، به تعبیر برخی آگاهان، طی سه ده پسین، بزرگترین نشستی بود که به میزبانی دولت افغانستان در داخل کشور، برگزار می شد. صرف نظر از این امتیاز نه چندان حایز اهمیت، موضوعات مطرح شده در این کنفرانس، اگرچه با توافق و اقبال خارجی ها و مقام های شرکت کننده مواجه شد، اما در عمل، به نظر می رسد، هیچ ضمانت اجرایی مناسب و مطمینی برای آن وجود ندارد.

در این کنفرانس در حدود ۴۰ وزیر خارجه از جمله وزرای خارجه امریکا، بریتانیا، ایران و پاکستان و چندین مقام بلندپایهٔ دیگر، شرکت کرده بودند.

بان کی مون، سرمنشی سازمان ملل، اندرس فوراسموسن، منشی عمومی سازمان پیمان نظامی ناتو و شماری از سازمان های بزرگ بین المللی هم در این نشست، شرکت داشتند.

پیشنهادهای مطرح شده در کنفرانس کابل از جانب دولت افغانستان، بیشتر حول محور دو حوزه اقتصادی و امنیتی متمرکز بود.

رییس جمهور کرزی که به همراه بان کی مون، سرمنشی سازمان ملل متحد، ریاست این کنفرانس را به عهده داشتند، برای شرکت کننده گان، دو پیشنهاد عمده و اصلی ارایه داد: مصرف ۵۰ درصدی مبالغ کمکی جامعهٔ جهانی به افغانستان از مجرای دولت این کشور و واگذاری مسوولت های امنیتی به نیروهای داخلی افغانستان تا سال ۲۰۱۴.

این در حالی است که به گفتهٔ مقام های دولت افغانستان، تاکنون تنها ۲۰ درصد از کمک های بین المللی به افغانستان، از طریق دولت به مصرف رسیده و مابقی، همه توسط موسسات غیر دولتی خارجی فعال در افغانستان، مصرف شده است. با این حساب، می توان نتیجه گرفت که بخش بزرگ فساد گستردهٔ اداری در افغانستان، از جانب موسسات خارجی بر دوش دولت افغانستان گذاشته شده است؛ زیرا سنجش میزان فساد، در مقایسه با میزان پول دریافتی، محاسبه می گردد. البته این نکته را نیز، نباید از نظر دور داشت که دولت افغانستان نیز، ظرفیت و توانمندی لازم را برای مدیریت درست پول های دریافتی، نداشته است. فساد گسترده و عدم توجه به شایستگی، دانش، اهلیت و پاکی افراد از جمله عوامل شایع در سیستم مدیریت دولتی افغانستان است.

در کنار این موضوعات، حامدکرزی پیشنهادهای دیگری نیز داشت. او همچنین گفت که تا اکتوبر سال ۲۰۱۱ میلادی، باید نیروهای ارتش افغانستان تا ۱۷۰ هزار و نیروهای پولیس کشور تا ۱۳۴ هزار تن افزایش یابد.

موضوعی که با توجه به کارنامهٔ خارجی ها در عرصهٔ تعلیم، تجهیز و تقویت نیروهای نظامی افغان در طی ده سال گذشته، بعید به نظر می رسد، در مدت زمان پیشنهاد شده از سوی دولت افغانستان - اکتوبر ۲۰۱۱- عملیاتی شود و یکی از مسایلی که ضمانت اجرای تعهدات خارجی ها در کنفرانس کابل را مورد پرسش قرار می دهد نیز، همین موضوع است.

از موضوعات دیگر مطرح شده در کنفرانس کابل، تعهد رییس جمهور به مبارزه با فساد اداری و ایجاد دولتی که "از شایستگی، موثریت، صداقت و امتیازات لازم برخوردار باشد" بود؛ امری که با گذشت چندین ماه از برگزاری کنفرانس کابل، هیچ نشانهٔ عملی و ملموسی از اجرایی شدن آن به چشم نمی خورد.

از مقام های شرکت کننده در کنفرانس کابل نیز، هیلری کلنتن؛ وزیر خارجهٔ امریکا در سخنرانی خود بر جنگ با القاعده، تفکیک طالبان از القاعده و ماندن در کنار دولت افغانستان تاکید کرد. وی دربارهٔ مصالحه با شورشیان نیز گفت که در صورتی که آنها از القاعده جدا شوند، قانون اساسی و حقوق زنان را به رسمیت بشناسند، امریکا از این روند حمایت می کند!

در هر حال، با اینکه پیشنهادهای افغانستان در کنفرانس کابل، از جانب جامعهٔ جهانی، مورد پذیرش قرار گرفت و حامد کرزی نیز، در نشست خبری پی پس از این کنفرانس، از این موضوع، ابراز خوشحالی کرد، اما روند جاری، به روشنی نشانگر این معناست که هیچ ضمانت اجرای مناسب و مطمینی برای تعهدات خارجی در کنفرانس کابل، همانند موارد مشابه آن در گذشته، وجود ندارد.

دومین انتخابات پارلمانی:

دومین دورانتخابات پارلمانی طی ده سالهٔ پسین، پس از تاخیرها و تعلل های فراوان، سرانجام در ۲۷ سنبلهٔ سال ۸۹ خورشیدی برگزار شد. این انتخابات اگرچه برای دولت افغانستان یک آزمون مهم، تلقی می شد؛ زیرا گفته می شد که مدیریت آن را کاملا افغان ها به عهده خواهند داشت، اما چندان که انتظار می رفت، مطلوب و ایده آل نبود.

انتخابات، صبح روز ۲۷ سنبله، ساعت ۷ بامداد در ۶۰۰۰ شعبهٔ اخذ رای در ۳۴ ولایت افغانستان با شرکت بیش از ۲۵۰۰ نامزد که از این مجموعه، ۴۰۰ تن شان زن بودند، زیر نظر ۲۹۰ هزار ناظر انتخاباتی، به منظور تصاحب ۲۴۹ کرسی که ۶۸ کرسی از این میان به زنان اختصاص یافته، آغاز شد.

ص ۳

د لوی او بښونکي خدای ج په نامه

سرمقاله

د افغان سوداګرو بند توکي او د دولت بې تفاوتي!

شاوخوا اووه میاشتې کېږي، چې د کراچۍ په بندر کې د افغان سوداګرو په زرګونو کانټینره مالونه او سوداګریز توکي بند پاتې دي او افغانستان ته د لېږد او تګ اجازه نه ورکول کېږي. په افغانستان کې د سوداګرۍ خونې مرستیال ښاغلی الکوزی وایي تر اوسه د کراچۍ په بندر کې د افغان سوداګرو نژدې نهه زره کانټینرونه بند پاتې دي او په دغو کانټینرونو کې اکثره خوراکي توکي او درمل دي، چې د افغانستان تر ټولو لومړنۍ اړتیاوې هم ګڼل کېږي، همداشان دوی زیاتوي، چې له دغو توکو څخه تر اوسه پورې په لسګونو کانټینره خوراکي توکي له منځه تللي او پاتې نورو ته هم که د تګ او لېږد اجازه ورنه کړل شي، نو ښایي پاتې توکي هم له منځه لاړ شي او له بلې خوا په دغو توکو کې ډېری یې ژمني توکي دي، چې د ژمي په پای ته رسېدو سره یې بازار له منځه ځي او له کاره لوېږي او په دې هکله افغان سوداګرو ته لوی زیان اوړوي. دوی دا هم زیاتوي، چې په هر کانټینر کې د ۸۰ تر ۲۰۰ زره ډالرو په ارزښت توکي شته، نو په دې توګه یې که مورږ میانه یا منځنۍ حد یا تقریباً ۱۵۰ زره ډالر د هر کانټینر لپاره وټاکو، نو د نهو زرو کانټرونو توکو منځنۍ بیه (۱۳۵۰۰۰۰۰۰۰) ډالرو ته رسېږي او دا د افغانستان سوداګرۍ او اقتصاد ته تر ټولو لویه ضربه ګڼل کېږي او دا ضربه تر ډېره حده افغان سوداګرو ته رسېږي، نو په دې صورت کې به هغوی څنګه زړه ښه کړي، چې په افغانستان کې د سوداګرۍ په برخه کې پانګونه وکړي او د افغانستان د سوداګرۍ پراختیا او ودې ته دې پاملرنه وکړي. په همدې حال کې افغان سوداګر له دولت څخه د خپلو مالونو د ژرترژه خوشې کېدو غوښتنه کوي او وایي کې د دوی مالونه ژرترژه خوشې نه شي، نو دوی ټول توکي به له منځه لاړ شي. د یادونې ده چې څو میاشتې مخکې افغان دولت له پاکستان سره یو ترانزېټي ترون هم لاسلیک کړ او ټاکل شوې وه، چې دا ترون به د روان کال د سلواغې پر ۲۳ مه نېټه عملي شي، خو تر دې دمه نه یوازې دا ترون عملي نه شو، بلکې د افغان سوداګرو پر وړاندې پاکستان دولت ګڼ خنډونه هم رامنځ ته کړي دي او تر ډېره حده یې د دغه ترون له منځپانګې څخه سرغړونه کړې ده، خو مهمه داده، چې افغان دولت هم په دې برخه کې ډېر بې تفاوته دی او حتا تر اوسه پورې یې په دې حصه کې هېڅ داسې کوم اقدام نه دی کړی، چې ستر ګې وروړي. که څه هم په تېرو څو میاشتو کې افغانستان د پاکستان له لوري څو ځو واړې راغلو چارواکو او پلاویو دا خبره په ډاګه کړې چې د افغان سوداګرو ستونزې به حلوي او هغوی ته به اجازه ورکوي او همدارنګه نوی ترانزېټي ترون به عملي کوي، خو بیا هم دوی پر خپلو ژمنو هېڅ عمل نه دی کړی، نو په دې توګه په دې حصه کې دواړه دولتونه ملامت دي، ځکه نه افغان دولت د دې ستونزې په هواري کې له زړه ګامونه اخلي او نه هم د پاکستان دولت او تر هغو چې دواړه لوري د دې ستونزې د هواري لپاره اړین او له زړه نه ګامونه وانه خلي، دا ستونزه به نوره هم اوږده شي او بلاخره د افغان سوداګرو ټول وارد شوي توکي به د کراچۍ په بندر کې له منځه لاړ شي او بیا به افغان سوداګرو ته د خپلو توکو د تاوان مسوولیت هم هېڅوک پر غاړه نه اخلي.

خصوصي سکتور او پر ولس یې ناوړه اغېزې

نسیم بریال



ازاد بازار او خصوصي سکتور هغه اصطلاح ګانې دي، چې افغانستان ته د بهر نیانو له راتګ سره سمې راغلې او اوس یې خبره دې حد ته رسېدلې، چې نژدې د هېواد ټولې چارې یې منګولو ته لوېدلې دي. سره له دې چې ازاد بازار او خصوصي سکتور په خپل ذات کې ښه والی او ګټې لري او د چارو د کارپوهانو په باور یې مثبتې پایلې لرلې دي، خو که په عمومي توګه پاملرنه وشي او د افغانستان کورنۍ حالات او شرایط په پام کې ونیول شي، نو په دې هېواد کې دا ځیزونه هېڅ په درد نه خوري او نه یې هم تر اوسه پورې په درد خوړلي، بلکې د ډېرې ناوړه اغېزې یې لرلي او لري یې او ولس د دغو اغېزو قرباني کېږي. مورږ په عمومي توګه د خصوصي سکتور پر ګټو او ارزښت سر ببره د هغه څو مهمې ناوړه اغېزې په ځینو مهمو مواردو کې داسې رالنډولای شو.

لومړی په روانې برخه کې: دا ډول سکتور د ټولنې د وګړو تر منځ په په روانې برخه کې د ډېرې ستونزې زېږوي او که څېړنه وشي، نو تر اوسه یې په دې برخه کې د ډېرې ناوړې اغېزې ښکلي هم دي. د بېلګې په توګه، سره له دې چې په هېواد کې د پوهنې، لوړو زده کړو او ځینو نورو برخو کې خصوصي سکتور د ډېره وده کړې او څه ناڅه نتیجه یې هم ورکړې، خو د شرایطو او د ولس د ژوندانه سطحې ته په پام سره د زده کړو په برخه کې دا ډول سکتور د

د ډېرې ناوړې اغېزې ۳مخ

خصوصي سکتور او پر ولس...

هم لرلي او لري يې، تر ټولو مهمه يې داده، چې د ټولنې ټول زده کوونکي يو ډول نه وي. زمونږ ټولنه يوه غريبه ټولنه ده او يوازې څو سلنه خلک يې شتمن او بډای دي. په دې توګه هغه زده کوونکي چې اقتصادي وضعه يې ښه ده، خصوصي سکتور يا په بله وينا خصوصي ښوونځيو او پوهنتونو ته ځي او هغه چې وضعيت يې ښه نه دی، نو په دولتي هغو کې زده کړې کوي، ځکه دولتي وړيا دي او خصوصي پيسې اخلي او يوازې د شتمنو خلکو زامن په کې زده کړې کولای شي، چې دا له رواني اړخه د دغو دواړو قشرونو ترمنځ يو ډول ناهمغږي رامنځ ته کوي او تيټ قشر دا انګيري، چې ګواکې دوی پيسې نه لري او نه شي کولای خصوصي زده کړې وکړي او په دې ډول له يو ډول رواني سترنزو سره مخ کيږي.

دويم په اقتصادي برخه کې: دا ډول سکتور په اقتصادي برخه کې هم ډيرې ناوړې اغيزې ترمنځ ته کړي او ولس يې له ګڼو ستونزو سره مخ کړی دی. دا مسئله به د يوې بېلګې په وړاندې کولو سره روښانه کړو او هغه دا چې اوسمهال په افغانستان کې ډيرې سوداګري د خصوصي سکتور او ازاد بازار په لاس ده، هر څه چې هغوی غواړي هماغسې يې کوي، يانې دولت ورباندې په سمه توګه کنټرول نه شي کولای او که د کنټرول هڅه يې وکړي، هغوی خپل ټول توکي پر بازار بندوي او بازار ته يې نه وړاندې کوي. څه موده وړاندې ايران پر افغانستان باندې تېل بند کړل، سملاسي ورسره سم د تېلو بېې اسمان ته وختلې، افغان سوداګرو هم ډيرې ناڅې سورې ووهلې او لا تر اوسه پورې دا مسئله او ستونزه سمه هواره شوې نه ده، خو په همدې ترڅ کې افغان دولت له روسيې سره د ۱,۸ مليونه ليتره تېلو قرارداد لاسليک کړ او دغه قرارداد بيا هم يوه افغان سوداګر يا خصوصي سکتور ته ورکړل شو، خو مورږ وينو چې تر اوسه پورې هم د تېلو په بيو کې هېڅ کوم مثبت بدلون نه دی راغلی او هماغسې لورې دي. دا ټول د دې څرګندويي کوي، چې خصوصي سکتور د دې ولس او هېواد په ګټه نه دی، هغوی د بازار وضعې ته ګوري او د ډيرې اړتيا په صورت کې په لوړو بيو توکي وړاندې کوي، دوی تل د ډيرې تقاضا په صورت کې په لوړه بيه عرضه وړاندې کوي، کله چې پوه شي تقاضا کمېږي، خپله عرضه کموي او چې تقاضا زياتېږي، نو ببرته عرضې ته مخه کوي او همدا لامل دی، چې په هېواد کې د ډيرې خوراکي توکو، سون توکو او نورو بېلابېلو توکو بيې په بې ساري توګه مخ پر لوړې ځي او دولت هم نه شي کولای چې راکنټرول او کابو يې کړي.

همداشان ډېرې نور مهم موارد هم شته، چې د خصوصي سکتور ناوړه اغيزې ترې څرګندېږي، خو په ټوليز ډول ويلای شو، چې خصوصي سکتور له هره اړخه په دې هېواد کې د ولس په زيان تمامېږي او تر اوسه پورې د دې هېواد شرايط دې ته نه دي چمتو شوي، چې دلته دې ټولې چارې خصوصي سکتور ته وسپارل شي، ځکه خصوصي سکتور شديد کنټرول، سالمې سيالۍ او سالم اقتصاد ته اړه لري او افغانستان تر اوسه د دې جوګه نه دی او د دې پر ځای کې مثبتې پايلې ولري، تر مثبتو يې ناوړه پايلې ډېرې دي او د دې ناوړو پايلو ټس بيا هم له ولسه خېژي.

پر ۲۰۱۱ کال له افغانستانه ...

دا پر يوه ليک يوه داسې تېروتنه وبلله چې د ده په وينا د امريکا ملي ګټو، د ۴۸ هېوادونو ايتلاف او د امريکا پوځ ته به جدي زيان واړوي.

پيټرايوس همدارازووېل چې طالبان او القاعده به د ډيو بريالېتوب په توګه نغاړې وړغوي. ده وويل: «ضرورت نشته چې ووايو، دا به هر هغه څه يو مخ زيانمن کړي چې زمونږ ځواکونه تراوسه پورې د هغو لپاره جنګېدلي او قرباني يې ورکړي دي.

د افغانستان په اړه د هسپانيا ...

ستونزه چې هسپانيايي پوځيان ورسره مخامخ دي له طالبانو سره د ګاونډيو هيوادونو په تېره بيا د ايران او پاکستان مرسته ده. د دغو هېوادونو ملاتړ په افغانستان کې د نړيوالو ځواکونو د ماموريت بريالېتوب ځنډوي.

د ده په وينا د نوې ستراتيژۍ د عملي کولو په باب د نوې ستراتيژۍ په تطبيق کې، چې افغان امنيتي ځواکونو ته د خپل هېواد د امنيتي چارو د سپارلو پر اساس ده، پرمختګ ورو دی. په ځينو مواردو کې نوي افغان چارواکي د مسوولېتونو منلو ته زړه نه ښه کوي. د هغو معلوماتو له مخې چې بشاغلي سانز پارلماني ډلې ته وړاندې کړل، د افغانستان ولسمشر حامد کرزی د افغانستان د ستونزو په خاطر لوبديځ پوځيان ملامتوي. ده همدارازووېل چې کرزی په افغانستان کې د لوبديځوالو د ولايتي بيارغونې له ټيمونو سره مخالفت کوي چې هسپانيا يې هم په افغانستان کې لري. دا کار افغان امنيتي ځواکونو ته له ځواک لېرد سره مرسته نه کوي.

ده دا هم ووېل، سره له دې چې ژر به هسپانيايي پوځيان د هرات ولايت د امنيتي چارو کنټرول افغان ځواکونو ته وسپاري او هسپانيا پوځيان غواړي چې د بادغيس ولايت د امنيتي چارو مسوولېت هم په يوه کال کې افغانانو ته وسپاري.

د تاکنيزو شکايتونو په اړه ...

اړخه روان کرکېچ ژر تر ژره ختم نشي نو دا به په ټوله کې د افغان حکومت اعتبار وننګوي. په عين حال کې دا يوه داسې حساسه موضوع هم پاتې شوې چې ارګ يې په اړه په څرګنده له تبصرې ډډه کوي. بشاغلي کرزي ته نژدې يوې سرچينې ويلي دشته حساسيتونو له کبله دارګ ټولو چارواکو ته د دغې اختصاصي محکمې د برخليک په اړه له تبصرې د ډډې کولو لارښوونه شوې. خو په عين حال کې همدغې سرچينې چې نه يې غوښتل نوم يې واخيستل شي دا هم وويل چې ولسمشر کرزی اوس د دغې محکمې په بهرته تړل کيدو سلا شوی او سمدستي د داسې يوې حل لارې په موندلو غور روان دی چې تر شا يې څه شور او ځور جوړ نه شي او تر يوه ځايه معترضه کانديدان هم راضي کړي. د دغې محکمې د برخليک په اړه له تېرو ځلورو ورځو راهيسې په افغانستان کې رسنيو څو ځله ضد اونقيض رپوتونه ورکړل. په لومړي سر کې د ولسي جرګې غړي دي له هماغه لومړي سره د دغې محکمې جوړېدل د اساسي قانون خلاف بولي.

په ګراچي بندر کې د افغان سوداګرو ...

د سرچينې د معلوماتو له مخې، ولسمشر د سوداګرۍ وزارت ته هدايت کړی، چې د سوداګرو ستونزو ته د حل لار پيدا کړي.

د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو وزارت د نړيوالې سوداګرۍ د برخې مشر مزمل شينواری هم د الکوزي خبرې تاييدوي. دغه راز سرچينې زياته کړه: ((د دې ترڅنګ، چې يوه زياته اندازه توکي د له منځه تلو له ګواښ سره مخ دي، په کانټينرونو کې يوشمېر داسې دي، چې برېښنا ته اړتيا لري او په ورځ کې تر ۷۰ امريکايي ډالره د برېښنا له املې وړاندې لګښت راځي.))

شينواری د سوداګريزو توکيو د نه لېږدول کېدو اصلي ستونزه دان ايل سي (NLC) پاکستاني حکومتي شرکت ټيټه وړتيا وبلله. د نوموړي په وينا، افغان سوداګر هره ورځ د کراچۍ له بندر څخه د خپلو توکو د لېږد لپاره زرو موټرو ته اړتيا لري، خو دان ايل سي، شرکت ټول ۲۰۰ موټر لري.

سرچينه زياتوي، چې د سوداګرۍ او صنايعو وزير ډاکټر انوار الحق احدي له تېرو ځو ورځو راهيسې د پاکستان د سوداګرۍ له وزير سره ټيليفوني اړيکې لري او د دې ستونزې د حل په لټه کې دی، خو ستونزه نه ده حل شوې.

دغه راز بشاغلي شينواری د پژواک خبري اژانس د يوې پوښتنې په ځواب کې چې له افغان سوداګرو توکي له منځه لاړ شي، ايا افغان حکومت به د پاکستان حکومت څخه سوداګرو ته د اوښتي زيان د تاوان غوښتنه وکړي ؟ووېل: ((مورږ تل د سوداګرو ملاتړ کړی او په دې برخه کې به هم ورځخه ملاتړ وکړو.))

يادې ستونزې په داسې حال کې رامنځ ته کېږي، چې د افغانستان او پاکستان تر منځ نوی سوداګريز ترانزيټي ټرون لاسليک شوی او تاکل شوې وه، چې د روان کال د سلواغې پر ۲۳مه، عملي شي.

خو ياد شوی ټرون د پاکستان له خوا د افغان سوداګرو پر سوداګريزو توکو د ضمانت د شرط په رامنځ ته کېدو سره څلورمياشتې ځنډېدلی دی.

مروری بر مهم ترین...

رييس جمهور کرزی، در ساعات اولیهٔ برگزاری انتخابات، رایش را به صندوق ریخت و از مردم افغانستان خواست، تا در این انتخابات شرکت کنند. وی آن روز را روز سعادت و نیکبختی مردم افغانستان خواند.

در روزهای نزدیک به انتخابات، عمده ترین نگرانی دولت، مسوولان انتخاباتی، نهادهای بین المللی، نامزدان و مردم، امنیت بود، اما چیزی که هیچکس به آن فکر نمی کرد - چیزی غیر از امنیت- بیش از هر موضوع دیگری برای مراجع یادشده، مشکل زا و دردسرساز شد...

ولایت های کابل، قندهار، نیمروز، غزنی، خوست، ننگرهار و بغلان در روز انتخابات، آماج راکت‌های طالبان قرار گرفت و بر اساس گزارش های پراکنده، دست کم ۱۰ غیرنظامی در اثر شلیک این راکت‌ها کشته شدند.

پیش از برگزاری انتخابات، سخنگوی وزارت دفاع افغانستان از به کارگیری بیش از ۱۰۰هزار نیروی پولیس، ارتش و امنیتی کشور خبر داده بود و اعلام کرده بود که نیروهای ارتش در سراسر این کشور مستقر شده اند.

تقلب و تخلف انتخاباتی موضوعی بود که هیچگاه تصور نمی شد، تا این مایهٔ نگرانی برای مردم، دولت و نامزدان انتخابات گذشتهٔ پارلمانی، دردسرساز گردد.

از مسایل معمولی و قابل انتظار نظیر ورود سه میلیون کارت جعلی از پاکستان به افغانستان، پاک شدن رنگ انگشت، پر کردن صندوق ها توسط زورمندان محلی، کمبود برگه های رای و... که بگذریم؛ این، نتیجهٔ شگفت انگیز انتخابات کشور بود که پس از اعلام نتایج ابتدایی انتخابات بود که خشم و نارضایتی مقامات را تا سطح رییس جمهور، به همراه داشت و این آغازی شد برای جنجالی که تا کنون نیز پایانش روشن نیست.

به دنبال این امر، کشمکش ها و تنش ها میان کمیسیون انتخابات و سمع شکایات انتخاباتی و ریاست جمهوری و لوی څارنوالی آغاز شد.

این تنش ها سبب شد، تا کمیسیون انتخابات در اثر فشارهای وارده، اعلام نتایج نهایی انتخابات را ماه ها به تاخیر اندازد. پس از اعلام نتایج نهایی نیز، این کمیسیون از اعلام نتایج ولایت غزنی، خودداری کرد. اگرچه در ابتداء دلیل عدم اعلام نتایج غزنی، نقص فنی عنوان شد، اما بعدا روشن شد که کمیسیون، از جانب مراجع مشخصی از درون دستگاه قدرت، تحت فشار بوده است.

در همین حال، محکمهٔ ویژهٔ رسیده گی به تخلف های انتخاباتی از سوی ستره محکمه، تشکیل و مامور رسیده گی حقوقی به ادعاهای مبنی بر تقلب در انتخابات، گردید.

در هر حال، تنش های انتخابات پارلمانی هنوز نیز ادامه دارد. محکمهٔ ویژه چندی پیش، در یک اقدام غیر منتظره، محل اصلی شمارش آرا در کابل را مهر و موم و فضل احمد معنوی، رییس کمیسیون انتخابات را ممنوع الخروج اعلام کرد. برخی از رسانه ها در کنار این اقدامات، از آغاز بازشماری آرای انتخابات پارلمانی نیز خبر دادند. بربنیاد گزارش ها، در تازه ترین مورد، بازشماری آراء در ولایت غزنی نیز زیر نظر ماموران محکمهٔ ویژه آغاز شده است.

به دنبال این موضوعات، چندی بعد، فضل احمد معنوی؛ رییس کمیسیون انتخابات، در یک نشست خبری اعلام کرد: "تسلیم زور نمی شویم!"

صرف نظر از اینها، این تنها محکمهٔ ویژه نیست که علی رغم مورد تردید بودن مشروعیت خودش، در پی مورد پرسش قرار دادن مشروعیت دومین دور انتخابات پارلمانی است؛ بلکه مشارکت حدود ۲۰ درصدی مردم نیز، از دیگر مسایلی است که می تواند، به مشروعیت انتخابات گذشتهٔ پارلمانی آسیب وارد کند. ادامه دارد

حریق ۱۶ تانکر تیل در ارزگان...

راننده گان روز گذشته گفته بودند که این تانکرها، به علت آتش گرفتن بالون گاز حریق گردیده، اما میلاداحمد مدثر سخنگوی والی، دیروز به رسانه ها گفت که حادثه در نتیجهٔ انفجار یک ماین کارگذاری شده در یک تانکر، به وقوع پیوسته است.وی علاوه نمود که در این رویداد، ۱۲ تانکر تیل حریق گردیده، دو راننده کشته و شش تن دیگر آنها مجروح می باشند.

مدثر افزود که اطفاییهٔ قوماندانی امنیه، بعد از سه ساعت تلاش توانست، آتش را خاموش نماید. خان آغا میاخیل رییس صحت عامهٔ ارزگان به آژانس خبری پژواک گفت که دو جسد و شش مجروح، به شفاخانه آورده شده است. نامبرده وضعیت صحی یکتن از مجروحان را نگران کننده خواند. مارگریت نیکولز سخنگوی نیروهای استرالیایی مستقر در ارزگان، به آژانس خبری پژواک گفت که این رویداد، به شکل تصادفی به وقوع پیوسته و مخالفان در آن دست ندارند.

وی علاوه نمود که در این رویداد، دو تن کشته شده، شش تن مجروح و چهار راننده لادرک گردیده اند. لعل محمد یکتن از راننده گان این تانکرها، به رسانه ها گفت که ممکن است، در این رویداد، تعداد زیادی راننده گان کشته شده باشند. از طرف دیگر، طالبان مسلح، مسوولیت این رویداد را به عهده گرفته اند.

قاری یوسف احمدی سخنگوی طالبان گفت که در این رویداد، ۱۲ راننده کشته شده و ۱۶ تانکر تیل از بین رفته است.

ژورنالیست و خشونت در برابر وی

محمد فهیم اعظمی محصل فاکولتهٔ ژورنالیزم پوهنتون کابل

در افغانستانی که هیچ چیز چهار چوب و ساختار اصلی خویش را ندارد و همواره در تمام عرصه ها افراط و تفریط دیده می شود، رسانه ها و مطبوعات نیز، از این قاعده مستثنی نیست. مدت ها بود که همه به ایجاد هفته نامه و مجله روی می آوردند و هم اکنون نیز، بیشتر شخصیت ها و احزاب سیاسی در کنار ثروتمندان و تاجران به دنبال ایجاد رادیو و تلویزیون هستند، تا به این وسیله، به نفع خود و در مواردی به ضرر دولت، کمپاین کنند.

این روند هر روز گسترده تر می شود و رسانه های دیداری و شنیداری بیشتری جواز فعالیت کسب می کنند، اما در شرایطی که شاید بتواند این اقدامات را در راستای اصل آزادی بیان مفید دانست، به نظر می رسد، سیر و روند منفی داشته باشد؛ چون اساس و پایهٔ کار رسانه یی که همان نیروهای مسلکی و کارآمد هستند، کمتر در میان این رسانه ها به چشم می خورد و یا کسانی که صاحب کار یا فن هستند، به خدمت گرفته نمی شوند.

در این میان کسانی که دست به انجام وظیفهٔ مهم و خطیر خبرنگاری یا ژورنالیستی می زنند، به صورت غالب کسانی هستند که از دانش و هنر خبرنگاری بی بهره بوده و بر اساس علاقه به این حرفه روی آورده اند. این وضعیت در شرایطی که کمتر زمینه یی برای رشد وآموزش این ژورنالیستان بر اساس معیارهای پذیرفته شده و تخصصی شدن وظایف آن ها وجود دارد، مشکلات عدیده یی را برای رسانه ها به وجود آورده است که افزایش خشونت ها علیه ژور نالیستان که در روزهای اعلام شدهٔ سال ۲۰۰۷ همانند عرصهٔ امنیتی، خونین ترین سال برای ژورنالیستان بود، یکی از این مشکلات است.

عدم وجود درک صحیح از حرفهٔ ژورنالیستی و عدم آشنایی کافی با وظایف یک خبرنگار حیطهٔ فعالیت های او و اوضاع کلی کشور، سبب شده، تا خبرنگاری با مشکلات تعددی رو به رو شود، همچنین عدم روی کار شدن یک قانون رسانه های قوی وتعریف نشدن حدود فعالیت های رسانه یی، بر و خامت این مشکلات افزوده است.

از سوی دیگر، در گزارش های نهادهای مدافع حقوق ژورنالیستان آمده است که بیشترین خشونت ها علیه ژورنالیستان از سوی مقام های دولتی صورت گرفته است؛ در این مورد باید گفت که نهادها و ارگان های دولتی هم آن سوی سکهٔ مشکلاتی است که در حیطهٔ فعالیت رسانه ها و مطبوعات به وجود می آید.

نهادهای دولتی کشور متأسفانه آشنایی و آگاهی کافی از فعالیت رسانه ها ندارند و در ک صحیح از نحوهٔ فعالیت رسانه یی و عکس العملی که باید آن ها نسبت به نشرات رسانه ها نشان بدهند، وجود ندارد. این نهادها، هر آنچه را که باب میل شان نباشد و یا نقاط ضعف شان را بیش از حد نمایان نموده باشد، مخالف قانون می پندارند و با جملات و کلماتی زننده به مقابله بر می خیزند، در صورتی که یک نهاد دولتی می تواند، با بر قراری ارتباط سالم با رسانه ها، دستاوردهای خویش را به رخ دیگران کشیده و به خوبی دستاوردها و همچنین مشکلات خود را بیان کنند و در این، کامیابی ها در پرتو ناکامی ها، محو و نابود نگردد.

ارزش وقت در زنده گی انسان ها

عصمت الله رییسی محصل سال سوم فاکولتهٔ ژورنالیزم پوهنتون کابل

وقت یا زمان سیر پیش روندهٔ نامحدود و دنباله دار هستی پدیده ها و رویدادها می باشد.

هرچند زمان را می توان با قرن، سال، ماه و هفته اندازه گیری کرد، اما ارزش وقت را هرگز اندازه کرده نمی توانیم، بلکه با استفادهٔ اعظمی از وقت خود به ارزش وقت اهمیت قایل شده می توانیم.

یک تعداد از گفته ها یا معقوله های وجود دارد که با بار گفتهٔ آن از ارزش آن کاسته نمی شود، بلکه با تکرار آن به اهمیت آن همچنان افزوده می شود.

از جملهٔ این مقوله ها (وقت طلاست) را می توان یادآور شد.

مقولهٔ فوق نشان دهندهٔ ارزش وقت است؛ چون زمانی که انسان ارزش وقت را درک نکند و از وقت گرانبهای خود در تعلیم و تحصیل و دیگر امور زنده گی دنیوی و اخروی استفاده نکند، بدون گمان وقت او به خطر رفته است.

کسی که به وقت ارزش می دهد، از یک طرف به مشکل های زنده گی با خوبی می تواند، مبارزه کند و تمام امور دنیوی خود را به درستی تنظیم کند و زنده گی با سعادت داشته باشد، از طرف دیگر، برای فامیل و جامعهٔ خود نیز، خدمت های انجام داده می تواند و اگر به وقت ارزش قایل نشود، برعکس، علاوه از اینکه در دنیا دچار مشکل زیاد می شود، برای آخرت خود نیز، پاداشی ندارد.

زمان فرصتی است که برای رسیدن به هدف برای ما داده شده است که همانا شناخت خود- خداوند و کسب رضای پروردگار است.

و هر لحظه زمان فرصتی برای گام نهادن و نزدیک شدن به این هدف است، اگر ما متوجه زنده گی و وقت تیر شده خود شویم، به این نتیجه خواهیم رسید که عمر ما خیلی کوتاه است، ولی در عین حال، مسوولیت و هدف ما بسیار بزرگ است؛ پس اگر خواستار رسید به این هف هستیم و می خواهیم این زنده گی پربار و پر مسوولیت را موفقانه سپری نماییم، لازم است که وقت را دستکم نگرفته و به ارزش واقعی آن پی ببریم و حتا یک لحظه زنده گی خود را بیهوده سپری نکنیم، چون ما مسوولیت هر لحظه از زنده گی خود را داریم و بالاخره تلاش نماییم که وقت خود را در قدم نخست در عبادت خداوند جل جلاله و همچنان از طریق تعلیم و تحصیل علم، دانش و سایر اعمال صالحه در رفاه خود، خانواده و جامعهٔ خود سپری نماییم و این نعمت را که برای ما ارزانی شده است، با استفادهٔ درست و به موقع آن قدر دانی نماییم.

هشدار به خاطر سرازیر شدن خرس ها به محدودهٔ شهرهای جاپان

محمد زبیر نذیر محصل سال سوم فاکولتهٔ ژورنالیزم پوهنتون کابل

دولت جاپان به ساکنان بعضی از مناطق شمال و مرکزی این کشور هشدار داده است که به دلیل افزایش حملهٔ خرس ها مراقب خود باشند؛ متخصصان حیات وحش در تلاش اند، تا علت افزایش خروج خرس ها از دامنهٔ کوه و جنگل ها در این کشور را پیدا کنند.

بر اساس آمار موجود، دست کم چهار تن در اثر حملهٔ خرس ها در بین ماه های اپریل و سپتمبر کشته شده و بیش از هشتاد تن نیز، زخمی شده اند.

برخی از کار شناسان دلیل افزایش حضور خرس ها در مناطق شهری را کاهش میوهٔ درخت بلوط اصلی ترین منبع غذایی خرس ها می دانند.

گروه دیگری نیز کم شدن شکار را دلیل افزایش خرس ها می دانند.

آمار این حمله ها نسبت به سال گذشته یعنی سال ۲۰۱۰ دو برابر شده است، خرس ها در اطراف جاده های شهری و پارک ها پرسه می زنند.

آنها پس از بیدار شدن از خواب های زمستانی بعضی اوقات برای پیدا کردن غذا به محدودهٔ شهرها و قلمرو زنده گی انسان ها وارد می شوند، یکی از مقام های محلی می گوید، مکاتب برای راندن برخی از کار شناسان گویند، محیط زیست جاپان افزایش سرما در بهار و گرمای تابستان را از دلایل پایین آمدن خرس ها از دامنهٔ جنگل و کوه ها می دانند.

از آنجایی که جاپانی ها زمین های زراعتی را ترک می کنند، خرس ها از این زمین ها به حیث قلمروهای جدید خود استفاده می کنند و با محیط زنده گی انسان ها نزدیکتر می شوند.

خرس ها از زنگ های پر سروصدا استفاده می کند، اما اگر این راهکار با شکست مواجه شود و کسی با یک خرس مواجه شود، هیچ توصیهٔ روشنی برای آن وجود ندارد.

یکی از مسوولان پیشنهاد داده که افراد برای در امان بودن از حملهٔ خرس ها به هنگام مواجهه با آنها، خود را به شکل یک توپ حلقه کنند.

کنوانسیون رفع کلیه تبعیضات علیه زنان

ماده بیست ویکم :۱– کمیته همه ساله از طریق شورای اقتصادی و اجتماعی گزارش درمورد فعالیت های خود درمجمع عمومی تسلیم مینماید و براساس گزارشات و اطلاعات واصله از دول عضو پیشنهادات و توصیه های کلی ارایه میدهد. این پیشنهادات و توصیه های کلی همراه با نظرات احتمالی دول عضو در گزارش کمیته درج میگردد.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپانهٔ یوازې دسرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې دلیکوال خپل نظر دی، ورځپانهٔ یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :– ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :– ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :– ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com